

# موسمي بدلون او په پاکستان کښې قدرتي آفتونه

# (Climate Change and Natural Disasters in Pakistan)

نصير مېمن



UNITED NATIONS
ESCAP
Economic and Social Commission for Asia and the Pacific

SPO
Strengthening
Participatory
Organization
ادارہ استحکام شرکتی ترقی

# موسمي بدلون او په پاکستان کښې قدرتي آفتونه

(Climate Change and Natural Disasters in Pakistan)

نصير مېمن

دريم اېډيشن: جون 2012

## د لیکوال پېژندګلي

نصیرمېمن د اېس پي او (SPO) چیف اېګزېکټو دے. ده د تېرو 12 کلونو په مهال د ماحول او پرمختګ په ځانګو کښې په نامتو تنظیمونو ، ادارو او کارپورېټ ځانګه کښې په مهمو چوکو خدمات ترسره کړي.د ده تعلق د لیډ پاکستان، ډبلیو ډبلیو اېف پاکستان، پریمیئر آئل ، یو اېن ډي پي او د مهران انجنیئرنګ او ټېکنالوجی پوهنتون سره پاتې شوې. ده د لوړې پاې په کمېټو ، د بېلا بېلو سرکاري ادارو د ډائرېکټرانو بورډ ، د سول سوسائټی په تنظیمونو او په نړیوالو تنظیمونو کښې هم خدمات ترسره کړي. ده په موسمي بدلون ، قدرتي آفتونو ، اقتصاد، په انساني پرمختګ او د حکومت په نظام لیکل جاري ساتلي دي. د ده آرټیکلي په قومي او نړیوالو ورځپاڼو کښې خپرې شوېدي. هغه په قومي او نړیوال فورم په مباحثو کښې برخه اخلي او لېکچرې هم ورکوي.

یادګېرنه

په دے کتاب کښې خپور شوې نظر د لیکوال دے او ضروري نه ده چې دا د تنظیم نظر وي.

# سرليك

ديباچه- --- 3
پيش لفظ-- 4
د باران راتلونکي موسم( مون سون) لپاره تياري کول - 7
د فنډ نشتوالي په صورت کښې 12
شريکي اوبه او د واورو ويلې کېدل(Glacial Melt) 17
د موسمي بدلون اثرات ( آغېز) 21
د قدرتي آفت انتظامات-- 26
د سېلاب بنيادي اسبا--- 30
د قدرتي آفت مخ نيوی- 34
د بحالی په لار کښې ستونزې-- 38
د قدرتي آفت غېر فطري اسباب- 43
د سېلاب د سختي تباهي سبب ګرځېدونکي عوامل 48

# دیباچه

**موسمي بدلون زمونږ سیارې(زمکې) ته ورپېښ لوي خطر دي او د دې له امله د نړۍ په بېلا بېلو برخو کښې قدرتي آفتونه رامېنځ ته شويدي. په پاکستان کښې هم د موسمي بدلون له امله يو شمېر ستونزې پيدا شوېدي. د کال 2010 سخت سېلاب ، په کال 1999 او 2002 کښې سمندري طوفان مونږ ته د موسمي بدلون له امله رامېنځ شوې چېلنج په ګوته کوي.**

**اېس پي او حقونو لپاره کارکونکي د پاکستان يو لوي غېر استفاده کونکي تنظيم دے کوم چې د قدرتي آفتونو په اړه په تيارۍ کولو او په سمدستي توګه په ګامونو پورته کولو کښې بوخت وي. په دې ګامونو کښې ټولنه فعاله کول، استعداد زياتول، روابط ساتل، مرسته کول، ريليف ورکول او د ريکورۍ پروژې(منصوبے) شاملې دي. د اېس پي او جنرل باډي، د ډائرېکټرانو بورډ او اعلىٰ انتظاميه د ليك، مذاکرو او پالېسۍ جوړولو دلارې خپل خدمات ترسره کوي.**

**د اېس پي او چيف اېګزېکټو نصير مېمن د موسمي بدلون او قدرتي آفتونو په بېلا بېلو اړخونو په قومي او نړيوالو ورځپاڼو کښې په باقاعدګۍ آرټيکلې ليکي. مونږ غواړو چې په دې موضوع د نصير مېمن ليکل شوې آرټيکلې په دې کتاب کښې شائع کړو. مونږ هيله لرو چې سول سوسائټۍ، پرېکړه کونکو او نورو اړوند ډلو لپاره به د ليکوال او د تنظيم دا هڅه د ګټې وړ وګرځي.**

**ډاکټر طفېل محمد خان**

**د اېس پي او د ډائرېکټرانو**

**د بورډ چيئرپرسن**

## پېش لفظ

وائي چې "د راتلونکو حالاتو سیورې وړومبی راځي". د موسمي بدلون په اړه د حکومتونو پېنل(آئي پي سي سي) تر سیوري لاندې کارکوونکو د نړۍ ، حکومتونو او د شخصي ادارو سائنسدانانو د دې خبرې تصدیق کړې چې د تېرو 150 کلونو په مهال د زمکې موسم د ډېر مهم بدلون سره مخ شوې او د دې بدلون مهمه څرګندونه په نړیواله کچه د تودوخې درجه زیاتېدل دي. د سائنسدانانو له مخې د 1990 لسیزه تر ټولو ګرمه لسیزه وه او د کال 1860 نه تراوسه کال 2005 ترټولو ګرم کال ریکارډ کړې شوې. د دې په نتیجه کښې د واورو وېلې کېدل/ کمېدل، د سمندر کچه لوړېدل، په ناڅاپي توګه طوفانونه راتلل او سخت موسمي حالات رامېنځ ته کیږي.

سائنسدانان په دا خبره متفق دي چې دا بدلون د انسانانو د کارونو ، د قدرتي تېلو سوځولو ، د زیاتې شوې آبادۍ له امله د ځنګلونو پرې کولو، د کارخانو لګولو او د ښارونو آبادېدو نتیجه دهد انسانانو کارونه ( فعالیتونه) د ګرین هاؤسز په نامه یاد شوي ګاز(gases) پیدا کوي چې پکښې کابن ډائي اکسائډ (CO2) میتهن(CH4) او نائټروس اکسائډ (NO2) شامل دي کوم چې په چاپېرچل کښې تودوخه په ځائ ساتي او په نتیجه کښې ئې د زمکې کچه ګرمه وي. وئیلې کیږي چې د تېرو سلو کلونو په مهال زمکه په مجموعي توګه 0.74 ډګري سېنټي ګرېډ ګرمه شوې، د زمکې تودوخه زیاتېدو سره د سمندر تودوخه هم زیاتیږي، واوره وېلې کیږي او په ټوله نړۍ کښې موسم بدلوي. د دې په نتیجه کښې په 20مه پېړۍ کښې د سمندر کچه د 10 څخه تر 20

مېلي ميټرو لوړه شوې او د 1960 څخه د واورې حجم 10 فيصده کم شوې.په غره ايزو او په لويو وچو سيمو(براعظمونو) کښې واوره تر 5 کلوميټره راټوله شوې.دا صورتحال په قطب شمالي کښې لا د انديښنې وړ دې چرته چې واوره په تندې سره وېلې کېږي او که دا لړې جاري وي نو د سائنسدانانو خيال دې چې 100 کاله پس به د ګرمۍ په موسم کښې دلته واوره نه وي.

د آئي پي سي سي مشاهدات د اهميت وړ دي خو د دې څخه هم زيات د اهميت وړ د دې په انسانانو اثرات (آغېز) دي، دا اثرات به د اوبو کمي، د خوراك عدم تحفظ، په جزيرو آبادو هېوادونو کښې د سېلاب، د سمندر کچه لوړېدو، د تباهۍ ، د سختو موسمي حالاتو او صحت ته د خطرو په صورت رامېنځ ته شي او دې سره به په ايکو نظام (eco-system) او په biodiversity هم بد اثرات وشي.دا مشاهده ده چې که موسمي بدلون ډېر زر رامېنځ ته شي نو اثرات ئې هم ډېر زيات وي خو که د دې په اړه خلق خبر او تيار وي نو د دې اثرات به کم وي. د سندھ درياب د ټيټي برخي له امله به د موسمي بدلون اثرات په سندھ تر ټولو زيات وي ، د واورو وېلې کېدو له امله به د اوبو شتون مسئله ، د کمو اوبو له امله د کرکېلي مسئله ، د اوبو نه رسېدو له امله درياب په وچه بدلېدل او د سمندر کچه لوړېدو په نتيجه کښې ساحلي سيمو ته ورپېښې خطرې د موسمي بدلون له امله پېدا کېدے شي. خو د دې اثراتو په اړه خلق خبرولو سره به د تباهي خطر کم شي او خلق به موسمي بدلون ته تيار وي.

**نصير مېمن د خپلو آرټيکلو د لارې د سندهـ اولس د موسمي بدلون د راروانو حالاتو په اړه د خبرولو يو مهم کردار ترسره کوي، د ده خبره په ساده ټکو وي او خبره سپينه کوي۔دا د ده وطن سره د مينې او ترون څرګندونه ده د کوم په لار کښې چې ډېر سخت چېلنجونه موجود دي، د ده هڅې به هغه وخت د سندهـ اولس لپاره د مرستې وړ وګرځي کله چې په راتلونکي وخت کښې داسي حالات رامېنځ ته شي۔**

**محمد ادريس راجپوت**
**د سندهـ حکومت د اوبه خور**
**او د توان محکمې پخواني سېکټر**

# د باران راتلونکي موسم( مون سون) لپاره تياري کول

## په تندۍ سره د راتلونکي مون سون په اړه خبرداريږ ورکول بايد د حکومت وړمبۍ ترجيح وي

نيشنل ډيزاسټر مينجمنټ اتهارټۍ( اين ډي ايم اے) سږ کال د باران بل سخت راتلونکي موسم( مون سون) خبرداريږ ورکړې.د اين ډي ايم اے له مخې د مون سون په راتلونکي موسم کښې 29 مليونه خلق د سيلاب خطر سره مخ کيږدے شي. دا خبرداريږ د وخت نه وړاندې کيږدے شي خو تيږر دوه مون سون دا په ګوته کوي چې بايد هر يو تن په وخت تيار وي. سخت صورتحال رامينځ کيږدل نشي رد کيږدےد تيږرو کلونو په مهال تباهۍ خپرونکي مون سون په راتلونکي مون سون کښې خلق خطرې سره مخ کړي.

حکومت او مرستندويه ادارې د ممکنه راتلونکو سختو موسمي حالاتو په تيارې کښې دي او موسمي بدلون او بيا د تيږرو دوه کلونو په مهال رامينځ ته شوې پيښې مونږ ته د تيار اوسيږدو خبرداري راکوي.په کال 2010 کښې کښې د موسمياتو محکمې د مون سون په مهال د 10 فيصده زيات باران پيښنګوئي ورکړې وه خو په خيبر پښتونخوا کښې د سخت موسم له امله دا ټولي اندازې بل شان ثابتې شوې، د پنجاب په ځينې برخو ، ګلګت بلتستان او آزاد جمو کشمير کښې په ستمبر کښې 400 او 200 فيصده زيات بارانونه وشول.

**دغسي په کال 2011 کښې د باران په اړه ټولي اندازې هغه وخت بل شان ثابتې شوې کله چې د سندهـ په ټيټو سيمو کښې ريکارډ باران وشو. په ساحلي سيمو کښې په دريو ورځو کښې 300 ملي ميټره باران وشو، په دې ورستيو کلونو کښې د مون سون راتلل دهوکه ورکونکي ووـ د تېرو دوه کلونو په مهال د بارانونو څخه دوه خبرې په ګوته شوېدي، يوه دا چې د بارانونو موده زياته وه او بله دا چې د بارانونو په اړه ورکړې شوې اندازې غلطې ثابتې شوېدي.**

**دا دوه خبرې په نظر کښې ساتلو سره په هېواد کښې د مون سون په اړه د نوې طريقې خپلولو ضرورت دې او د درې څلورو ورځو د پشنګوئۍ محدود صلاحيت په ځائ زياتې مودې لپاره د دې ضرورت دې. په پاکستان کښې هر کال د سېلاب عام موسم د جون 15مې نېټې څخه پېل کېږي**

**او دا د اکتوبر تر 15مه نېټه وي او دې مطلب دا دې چې مونږ سره په تندې سره تيارې کولو لپاره ډېر لږ وخت پاتې دې.**

**د تېرو دوه کلونو سېلاب ځپلي او په خاص توګه د سندهـ په ټيټو سيمو کښې اوس هم لا د خپل عام ژوند په پلو نه دي ستانه شوي. د کوآرډينېشن آف هيومېنټرين افيئر دفتر(UNOCHA) له مخې په سندهـ کښې لاس هم 10000 خلق په عارضي استوګنو کښې په ژوند تېرولو مجبور دي. د يو اېن او سي ايچ اے ، ايمرجنسي رسپانس فنډ(ERF) لا اوس هم په هېواد کښې**

د انساني همدردۍ په توګه د مرستې هدف پوره کولو لپاره د مليونه پېسو په تکل کښې دي.

د دې څخه معلومېږي چې دا سېلاب ځېلي په يو څو مياشتو کښې هېر کړې شوي. د روان کال تر پېل کېدو پورې د ملګرو ملتونو (UN) لخوا سېلاب ځپليو لپاره د 356 مليونه ډالرو د خواست په ځواب کښې نيمې پيسې ترلاسه شوېدي.د سندهـ په ټيټو سيمو کښې لا اوس هم د سېلاب اوبه ولاړې دي. لنډه دا چې د لکونو په شمېر ځپلي ستونزو سره مخ دي.

د وړومبي رسپانس څخه وروستو د مرستې کاروانه درجه په درجه کم شول، اوږدې مودې لپاره د مرستې کاروانه جاري ساتلو لپاره نړيواله مرسته ډېره کمه وه . د سندهـ حکومت لخوا د ريليف عملياتو په مهال د ځپلو ځپلوانو او سياسي خوښې خيال ساتلی شوې او د بحالۍ پړاو لپاره ناکافي وسيلې بېلې کړې شوېدي.

په زخم مالګه اچولو سره سندهـ حکومت سېلاب ځپليو لپاره بېلې کړې شوې څلور اربه روپې د ټاکل شويو نمائندګانو فنډ ته وسپارلې او د ټاکنو نږدې کېدو په وخت دا د ځپلو کامرېډانو د خوشحاله کولو موقع وه او په نتيجه کښې ئې په لکونو ځپلي همداسې پاتې شول. په داسې وخت کښې چې خلق په دومره لويه شمېره د وړاندې نه ځپل شوي معمولي موسمي حالات هم لويه تباهي خپرولی شي.کمزورې بنيادي وداني د نا‌ارامۍ بل سبب دې.د مثال په توګه هغه وېله چې د 2011 په مهال په يو شمېر سيمو کښې د سېلاب سبب ګرځېدلي لا اوس هم

پرانستي پراته ده، لا اوس اوس پرې د رغوني کار پیل شوی او دا کار د جون تر میاشت نشي ختم کېدے او د کار د معیار اندازه خو ئی هر څوك لېدلي شي کوم چې د معمولي باران مقابله هم نشي کولي د کوم لوي باران خو بله خبره ده.

د سندهـ په تېرو پراتو سیمو کښې باران د تباهي مستقل ذریعه جوړه شوې. د 2010 د سېلاب څخه وروستو د سندهـ دریاب غاړې په تندې کښې جوړې کړې شوې وې، خو د مضبوطیا معلومات ئې لا نشته، دغسې د غره ایزو سیمو لخوا چې کوم طوفان راپورته شوې و او په 2010 کښې په سندهـ کښې د تباهي سبب ګرځېدلي و ته هم کومه خاص پاملرنه نه ده شوې.په وخت د خبردارۍ نظام نشتوالي له امله اوس هم د هغه ډول طوفان له امله د سېلاب راتلو خطره شته او دې د کره کتني ضرورت دې.دغسې بل ضروري عنصر د قدرتي آفت راتلو په صورت کښې د ادارو ترمېنځه د روابطو نشتوالي دې کوم ته چې هم پام نه دې شوې. صوبائي ډېزاسټر مېنجمنټ اتهارټي(PDMA) لا اوس هم کافي وسیلې نه لري، په پي ډي ایم اے کښې په سمدستي توګه د تربیه شوې او تجربه لرونکي عملې ضرورت دې. بله مهمه خبره کومې ته چې هېڅ پام نه دې ګرځول شوې هغه ضلعي ډېزاسټر مېنجمنټ اتهارټۍ (DDMAs) دې، د قدرتي افت په صورت کښې ځائي انتظامیه تر ټولو وړاندې خلقو ته رسي او د دې د غېر فعاله کېدو زیات اثرات په خلقو کېږي، د ټاکل شویو ځائي حکومتونو نشتوالي په صورت کښې ډي ډي ایم اے د حکومت یوازنۍ اداره وي.دا ډي ډي ایم اے ټولو کارونو لپاره د دوهم کشمنر د دفتر متبادل وي. د دوهم کشمنر دفتر د انتظامي ترجیح په لحاظ د افت خپلیو مرسته ډېره په مشکله

کوي او اکثر هغه وخت فعاله شي کله چې تباهي رانزدې شي خو د دې په مقابله کښې ډيزاستر مېنجمنټ ټول کال په اړوند کار بوخت وي.

د انتظامي کارونو په اړه ډي ډي ايم اے ته د يوې ادارې حېثيت نه دې ورکړې شوې او څکه په وظيفه اي توګه د قدرتي افت په صورت کښې د انتظام صلاحيت نه لري.زياتره وخت د دوې ټول واك د حکومت د واکمنو په لاس کښې وي او له امله ئې د ځپليو مسئلې د حل کولو په ځائ زياتې شي.

حکومت په دې وروستيو کښې د موسمي بدلون په اړه يو وزارت جوړ کړې خو د سېلاب په شان قدرتي افت لپاره د لا ګامونو پورته کولو ضرورت دې چې پکښې په وخت خبردارې باوري کول، د سېلاب اثراتو مخ نيوي لپاره تيارې کول او په وظيفه اي او سېپځلي توګه د قدرتي افت د اثراتو څخه بچ کولو لپاره مربوط مېکانزم شامل دي.

په تېرو دوه کلونو کښې د قدرتي آفتونو په مهال د ډيزاستر مېنجمنټ اتهارټيو ترمېنځه د روابطو نشتوالي و لکه څنګه چې د حکومت، قومي او نړيوالو مرستندويه ادارو ترمېنځه او په خاص توګه په صوبو کښې دا نشتوالي موجود و بايد د راتلونکي مون سون څخه وړاندې دا کمزورې لرې کړې شي. حکومت ته به په تندې سره راروان د مون سون موسم لپاره ترجيحي ګامونه پورته کول وي ګني هسې نه چې وخت د لاسه ووځي.

Daily The News-May 27, 2012

# د فنډ نشتوالي په صورت کښې

د نېشنل ډیزاسټر مېنجمنټ اتهارټی(NDMA) چیئرمېن وئیلي دي چې د ملګرو ملتونو لخوا د شوي خواست په ځواب کښې لا تراوسه 40 فیصده فنډ ترلاسه شوې.ملګرو ملتونو په سندهـ او بلوچستان کښې د سېلاب ځپلیو مرستې لپاره د 356 ملیونه ډالرو خواست کړې و او تراوسه به په مشکله 150 ملیونه ترلاسه کړې شوي وي. سږ کال د سېلاب تباهي د تېر کال څخه په څو چنده زیاته وه خو د مرستندویه تنظیمونو لخوا د وړاندې پشان مرسته ترلاسه نه شوه.

تراوسه اروپائي کمیسیون ، امریکا، جاپان ، برتانیه او ناروے تر ټولو زیات مرسته کونکي هېوادونه دي. د این ډي ایم اے د اوسنیو شمېرو له مخې د سېلاب په مهال 250 تنه مړه شوي، په 34000 کلي والو سیمو اغېز شوی، 1.6 ملیونه کورونه وېجاړ شوي او په نتیجه کښې ئې 9.6 ملیونه خلق ځپلي شوي.

په سندهـ کښې په 2.2 ملیونه ایکړه زمکه د فصل تباه کېدو له امله د کلي اقتصاد تباه شوی او 116000 څاروي مړه شوي. د ملګرو ملتونو له مخې سېلاب د سندهـ په 13 سختو سېلاب ځپلیو سیمو کښې 73 فیصده ولاړ فصلونه ، 36 فیصده لائیو سټاک او 67 فیصده خوراکي سټاک له مېنځه وړې. دا زیان د سختې اندېښنې وړ دې ځکه چې په دې سیمو کښې دا د اقتصاد لويې ذریعې دي.

د مرستندويه ادارو لخوا د کم رنسپانس له امله د مرستي په کارونو سخت آغېز شوی، په ځپليو سيمو کښي د فوډ سيکيورټي **86** فيصده ، د ښکلو د اوبو **83** فيصده او د شپلټرو **49** فيصده کمبوت رامېنځ ته شوی او د دې په نتيجه کښي په سندهـ او بلوچستان کښي د مجموعي سېلاب ځپليو دريو برخو ته شپلټرې نه دي ورکړې شوې.

په ژمي کښي د شپلټرو او کمبلو ضرورت لا سوا شوی، په سندهـ او بلوچستان کښي **3** مليونه سېلاب ځپلي په سمدستي توګه خوراکي مرستي ته اړتيا لري. د مرستندويه ادارو له مخې د خوراك پېداوار بحالى او د امدن کارونه پېل کولو لپاره د **5** مليونو څخه زيات خلق د کرکيلي په اړه مرستي ته اړتيا لري.

په واضحه توګه دا صورتحال په راتلونکي وخت کښي د انساني بحران شکل اختيار کولي شي. د خوراك نړيوال پروګرام هم تر فرورې **2012** پورې سېلاب ځپليو ته د خوراك ضرورت پوره کولو لپاره د **107** مليونه ډالرو په کمبوت اندېښني ښودلي دي.

**http://jang.com.pk/thenews/jan2012-weekly/nos-15-01-2012/images/N-Lost-Steam11.jpg**

مرستندويه ادارو خبردارې ورکړې چې که ذرائع استعمال نه کړې شي نو دوي سره شته سټاك به د نومبر تر آخره ختم شي او دوي به مجبور شي چې راشن کم کړي او د هغو خلکو شمېره به هم کمه کړي چې د دوي د سمبر نه وروستو مرسته کولي شي.

اېن ډي اېم اے وائي چې د دسمبر په دوهمه نېټه په 755 کېمپونو کښې تراوسه 232000 ځپلي مېشته دي او دوي هر ډول مرستې ته اړتيا لري.د يو اېن او سي اېچ اے له مخې د 9 مليونه سېلاب ځپلې آبادۍ 25 فيصده خلک د بېلا بېلو رنځورو لکه مليريا،هيضه،د ساه اخيستلو نظام او د څرمنې(سکن)خطرې سره مخ دي او دا صورتحال د حکومت او مرستندويه ادارو لخوا په سمدستي توګه د ګامونو پورته کولو متقاضي دې.

د اوسنيو قدرتي آفتونو په مهال د مرستندويه ادارو لخوا د مرستې يا رسپانس رجحان کم په نظر راغلې د 2010 سېلاب په مهال ملګرو ملتونو(يو اېن)د 1.9 اربه ډالرو خواست کړې و خو مرستندويه ادارو يوازې 1.3 اربه ډالر مرسته کړې.ډنمارک 23 مليونه ډالر عطيه کړل خو پورتګال چې لويه جي ډي پي لري هېڅ يې عطيه نه کړل،فرانس 4.2 مليونه عطيه کړل کوم چې 6 چنده لويه جي ډي پي لري او مرسته يې د سوېډن د عطيې څخه 9 چنده کمه وه.د يوې مرستندويه ادارې"اسلامک رېليف"د يو راپور له مخې د هيټي زلزلې په مقابله کښې دلته د مرسته کونکو په مرسته کښې واضح فرق موجود دې.

په هيټي کښې 3.7 مليونه خلک ځپلي شوي وو کومو ته چې د يو ځپلي په سر 948 ډالر مرسته ورکړې شوې خو په پاکستان کښې د 2010 په سېلاب کښې 20 مليونه خلک ځپلي شوي او يو ځپلي سره 122 ډالر مرسته شوې.د نړيوالې مرستندويه ادارې آکسفيم جي بي د يو تجزيه کار له مخې د ملګرو

ملتونو د خواست په ځواب کښې د مخښکي کال سېلاب په مقابله کښې يو تن ته په

لسو ورځو کښې د 3.20 ډالرو په مقابله کښې سږ کال يوازې يو تن سره د 1.30 ډالرو مرسته شوې.دا مرسته د 2005 زلزلې په مهال 70 ډالر او د هيتي زلزلې په مهال 495 ډالر وه.دا رجحان په ګوته کوي چې د تباهۍ په مقابله کښې مرسته کمه شوې د خلکو د مړينې نه علاوه اوسني سېلاب د هيتي د زلزلې څخه زياته تباهي خپره کړې.د حکومت لخوا په تاخير سره خواست کول،په يوروزون او امريکا کښې اقتصادي بحران،د حکومت لخوا د استعداد او سپيځلتيا نشت والي او په نړيواله مېډيا کښې کم کورېج د مرستندويه ادارو لخوا د کمې مرستې اسباب دي.د حکومت لخوا د تباهۍ اندازه او د نړيوالې مرستې خواست په داسې وخت کښې وکړې شو کله چې د مليونو په شمېر خلک بې کوره شوي وو دغسې لوې مرسته کونکي هېوادونه لکه اروپاء او امريکا اقتصادي بحران سره مخ شوي.امريکا په افغان جنګ 550 اربه ډالر مصرف کولو سره په اوسنۍ لسيزه کښې د بې روزګارۍ سختې مسئلې سره مخ شوې.14 مليونه بې روزګاره امريکايان د اندېښنې وړ خبره ده.
د امريکې د کرېډټ رېټنګ يوه درجه کمېدو سره اوس د امريکې د پارلمان غړي نړيواله مرسته کمول غواړي دوي افريقې لپاره د خوراک او داروګانو او د قدرتي آفتونو په مهال مرسته کمه کړې.د امريکې په وفاقي بجټ کښې د امريکې لخوا خارجه مرسته د 70مې لسيزې او د 80 مې لسيزې د 2 فيصد څخه په 2011 کښې 1 فيصد ته راټيټه کړې شوې.

د امريکې د پېسو تقسيمولو کمېټۍ تجويز ورکړې چې د عراق،افغانستان او پاکستان مرسته دې کمه کړې شي.د اروپائي ائتلاف زياتره هېوادونه اقتصادي بحران سره مخ دي په يوروزون کښې ګراس ډوميسټك ډېټ د دوي د جي ډي پي 85 فيصده دي.د برتانيې د بجټ خساره 10.4 فيصد او د امريکې 8.9 فيصد ته رسېدلې.په برتانيه کښې د 16 کلونو څخه تر 24 کلونو د عمر خلکو بے روزګاري د تېرو 3 کلونو په مهال 14 فيصدو ته رسېدلې.د حکومت په اخراجاتو کښې د وړاندې نه 10 فيصده کمې راوستل شوې.

په داسې صورتحال کښې به په سباؤن کښې د قدرتي آفتونو په مهال نړيواله مرسته لا کمه شي.د پاکستان پشان هېوادونو ته به خپل ضروريات پوره کولو لپاره خپلې وسيلې کارول وي،د قدرتي آفتونو خطرې کمولو لپاره پاکستان ته د اوږدې مودې د ماسټر پلان جوړولو ضرورت دې.رېليف او بحالۍ لپاره زياتې پېسۍ بېلول به د قدرتي آفتونو څخه وړاندې انتظاماتو کښې مرسته وکړي.

Daily The News-January 15, 2012

## شريکې اوبه او د واورو وېلې کېدل(Glacial Melt)

روانه میاشت به 7 هېوادونه د ابوظهبي ډائبلاك ګروپ په غونډه کښې په همالیه کښې د شریکو اوبو او د واورو وېلي کېدولو اثرات کمولو لپاره یوه شریکه ستراتېژي جوړوي په دغه ډله کښې پاکستان،افغانستان،بنګله دېش،بهوټان،چین،هند او نیپال شامل دي.دا ټول هېوادونه د سندهٔ دریاب اوبو ته رسنه لري همالیه هېوادونه چې پکښې بنګله دېش،بهوټان،هند،مالدیپ،نیپال، پاکستان او سري لنکا په نړۍ کښې 21 فیصده آبادي لري خو دوي یوازې په نړۍ کښې 8.3 فیصده د اوبو ذریعي لري.دا صورتحال د چین په کنټرول کښې تبت سیمه آسیائي هېوادونو لپاره د اهمیت وړ ګرځوي.د اوبو څخه ډکه د تبت سوئېلي سیمه د دریابونو دوه لوي نظامونه لري په دغه منطقه کښې سندهٔ ، براهماپوترا او دغسي نور یو شمېر آسیائي دریابونه دي.15 او 50 کلومیټره ستلج دریاب کوم چې په هند کښې بهېږي دا هم د تبت څخه پېل کېږي او سر یې په سوئېلي کېلاش غرونو کښې دی.د اوبو دا مېدان چې په کښې براهماپوترا،ګنګا،سندهٔ او میهنا کوم چې په همالیه،ایکوسسټم آغېز لري د 1.5 اربه خلکو د ژوند ضرورت پوره کوي.ګنګا دریاب یوازې په خپله د 600 ملیونه خلکو ضروریات پوره کوي.

لکه څنګه چې د واورو حجم کمېږي نو ورسره به د اوبو بهېدل زیاتېږي.د موسمي بدلون په اړه د حکومتونو پینل(آئي پي سي سي)له مخې تر 2050 پورې به د براهماپوترا په دریاب کښې د اوبو بهېدل 14 فیصده کم شي او په سندهٔ کښې به دا کمي 27 فیصده راشي.په همالیه کښې د واورو وېلي کېدو له امله به په منطقه کښې د اوبو شتون لوي خطر سره مخ شي دغسي سوئېلي

آسيا کومه چې لويه آبادي لري د موسمي بدلون له امله لويې تباهۍ سره مخ کېدې شي.د تېرو دوه لیسزو په مهال د قدرتي آفتونو له امله په دغه منطقه کښې د 750 مليونو څخه زيات خلك ځپلي شوي.په مئي 2011 کښې د سارك عمومي سېکتر د اداري د حکومتونو په کچه د غونډې په مهال د قدرتي آفتونو په مهال په تندۍ سره د رسپانس په اړه يو مسوده وړاندې کړه.ده ووئيل چې د تېرو 40 کلونو په مهال سوئېلي آسيا د 1333 آفتونو سره مخ شوې او د دې له امله 980000 خلك مړه شوي 2.4 اربه خلك ځپلي شوي او د 105 اربه ډالرو زيان شوې.

په دې هېوادونو کښې د زياتې آبادۍ له امله دوي زياتره د اوبو په ذريعو انحصار کوي.د هماليه دريابونه اقتصاد او ټولنه جوړوي خو د واورو وېلې کېدول منطقي لپاره سخت سوشو پولېټيکل پيچلې مسئلې پېدا کړېدي او په داسې صورتحال کښې په سيمه ايزه توګه د مرستې ضرورت دې.

تر 2050 پورې به د سوئېلي آسيا آبادي د 1.5 اربو څخه زياتېدو سره 2.2 اربو ته ورسي او د 600 مليونو څخه زيات آسيائي وګړي کوم چې د ورځې آمدن د 1.25 ډالرو څخه کم لري يوه خطرناك پېښه د مليونو په شمېر خلك لا د غريبۍ په پلو وړلې شي.په هماليه کښې په تندۍ سره د واوروې وېلې کېدو له امله به په منطقه کښې د مون سون شدت زيات کړي، په منطقه کښې د دريابونو نظام ټول انحصار په هماليه لري.

د واورو په تندۍ سره وېلې کېدو سره به د سمندر کچه هم زياته شي سوئېلي آسيا لويه ساحلي د آبادۍ سيمه لري او جزيرے به هم د سمندر د کچې لوړېدو سره خطرې سره مخ شي.دا منطقه 12000 کلوميټره ساحلي سيمه لري او په دې کښې يو شمېر جزيرے هم دي خو په هماليه کښې د واورې وېلې کېدو له امله منطقه د قدرتي آفتونو سختې خطرې سره مخ کېدې شي.په مالديپ،سري لنکا او په بنګله دېش کښې ټيټې جزيرے په خاص توګه د سمندر د کچې لوړيدو له امله خطرو سره مخ دي لوي ساحلي ښارونه لکه چنائي،کراچۍ،کولکته،ممبئ،کوچين د قدرتي آفت د لويو خطرو سره مخ دي، لکه سمندري طوفان.

د سنده،د کرشنا،د کورې او د نرمادا د دريابونو وچې سيمې هم د سمندري طوفان خطرې سره مخ شوېدي او په حقيقت کښې د سنده 2 مليونه ايکړه وچه زمکه په سمندر کښې ډوبه شوې.دا صورتحال د بنګله دېش،هند او پاکستان پشان هېوادونو لپاره پيچلې مسئله ده کومه چې د وړاندې نه د سمندري طوفان په شان د قدرتي آفتونو تباهۍ سره مخ شوې.د دې حقيقت څخه واضحه کېږي چې زمونږ د دريابونو شريک نظام د انتظام لپاره او د آفتونو مخ نيوي لپاره د شريکې ستراتيژۍ جوړولو لپاره د سيمه ايزې مرستې نشتوالي په صورت کښې به په منطقه کښې د موسمي بدلون له امله هر ډول آفتونه راځي.سارك ته به د يو سيمه ايز د مرستې فورم په توګه په دې اړه موثر
کردار ترسره کول وي.روايتي امنيت او سيمه ايز تجارت هغه معاملې دي کومې چې د اوبو شريك نظام او آفتونو مخ نيوي لپاره په ګامونو پورته کولو غالبې دي.موسمي بدلون او دې سره تړلې آفتونه هغو هېوادونو لپاره وجوهات کېدې

شي کوم چې وړاندې نه د موسمي بدلون له امله ځېلي شوي چې دوي په سيمه ايزه توګه مرسته وکړي او د لکونو په شمېر د خلکو ژوند بچ کړي.

د معلوماتو بدلون، استعداد زياتول او د شريکو اوبو په اړه مختاط پالېسۍ جوړول سيمه ايزې مرستې لپاره ډېر مهم دي او دا به د موسمي بدلون د سختو اثراتو څخه په بچ کولو کښې مرسته وکړي که يو خوا د منطقي هر يو هېواد په خپله سيمه کښې د آفتونو انتظام لپاره پالېسۍ او ستراتېژۍ جوړې کړېدي خو په راتلونکو کلونو کښې د هېوادونو ترمينځه په دې اړه د مرستې ضرورت دې.د سيمه ايزې مرستې په اړه د ابوظهبي ډلي په مذاکراتو کښې د چين شاملول ډېر مهم دي.هغه چېلنجونه چې آسيائي هېوادونه د شريکو اوبو د موسمي بدلون او قدرتي آفتونو له امله آسيائي هېوادونو ته ورپېښ دي چين سره هم اړه لري ځکه چې د سوئېلي آسيا هېوادونو مهم دريابونه د چين د تبت سيمې څخه راوتلي دي.سارك ته پکار دي چې د غړو هېوادونو سره د شريکو هڅو زياتولو چې څومره اهميت دې بايد چين هم د اوبو ذريعو د موسمي بدلون او د قدرتي آفتونو په اړه په سيمه ايزه مرسته کښې شريك کړي.

Daily dawn-January 1, 2012

# د موسمي بدلون اثرات ( آغېز)

**اوسنی تجربه په نظر کښې نیولو سره دا وئیلی کیدې شي چې آسیا د موسمي بدلون او د قدرتي آفتونو بد مرغی سره مخ شوې.سختو موسمي حالاتو د منطقې د ملیونو په شمیر خلق خطرو سره مخ کړي.**

**انټرنیشنل یونین فار کنزرویشن آف نیچر(آئي یو سي این)په دې وروستیو کښې د سوئیلي کوریا په ابنچون ښار کښې د آسیا پنځم سیمه ایز کنزرویشن فورم جوړ کړو په دې فورم کښې د بیلا بیلو هیوادونو څخه د 500 څخه زیاتو نمائندګانو ګډون وکړو.د فورم په مهال ما ته هم د ګاونډي هیوادونو د بیلا بیلو ګډون کونکو سره د ملاقات موقع په لاس راغله.د فورم په مهال د بیلا بیلو هیوادونو څخه د باران،سیلابونو او د آفتونو په مهال د ځپلیو په مسئلو خبرې اترې وشوې.په پاکستان کښې د اوسنیو قدرتي آفتونو د تجربې څخه ثابته کیږي چې په دغه منطقه کښې څه هم کیدې شي په تندی سره د سختو موسمي حالاتو له امله پریکړه کونکي او تحقیق کونکي په هر ځای کښې شك سره مخ شوي.په آسیا کښې د سختو موسمي حالاتو اندازه د اوسنیو د یو څو مثالونو څخه لګول کیدې شي چې له امله یې خلك ځپلي شوي.**

**په اګست کښې په بنګله دیش کښې 750 ملي میټره بارانونه وشول او په نتیجه کښې یې راج شاهي سیمه کښې 200000 لکه خلق وځپل شول.په سوئیلي ختیزو سیمو کښې د 50 څخه زیات تنه د خاورو کمرو په خوئیدو کښې مړه شول.دغسې سرائے ګنج سیمه کښې د سیلاب له امله په 3 زره هیکټره سیمه ولاړ فصلونه تباه شول او په ټیکناف او بازار سیمه کښې 20000 زره خلق بے کوره شول.**

په هند کښې په اوړيسه آيالت کښې 3 زره کلي وځپل شول او په ترڅ کښې يې 2 مليونه خلق چې په کښې 1 لك 30 زره نورو ځايونو ته منتقل کړې شول ځپلي شوي. په بهار آيالت کښې د 1975 څخه وروستو په ورومبي ځل د دريابونو څخه اوبه ووتيړپه نوي ډيلي کښې په يو ساعت کښې دومره باران وشو چې د 50 کلونو ريکارډ يې مات کړوډغسې د سوئيلي کوريا په سئول کښې په يوه ورځ کښې د 300 ملي ميټره څخه زيات باران وشو کوم چې د 1907 څخه تراوسه پورې په

يوه ورځ کښې تر ټولو زيات باران ريکارډ کړې شوي.په جنورۍ کښې په سري لنکا کښې د باران له امله يو مليونه خلق وځپل شول. موسمي بدلون دومره په تندۍ سره روان دي چې وئيلي کيږي چې د 2050 څخه وروستو به په سري لنکا کښې فصل نه کيږي.

په تهائي لېنډ کښې د سخت باران له امله د زرګونو په شمېر کورونه ويجاړ شول دغسې په لکونو ايکړه زمکه ولاړ فصلونه تباه شول.د جون په مياشت کښې د چين په 6 ولايتونو کښې د سختو بارانونو له امله 0.35 مليونه خلق په کډه کولو مجبور شول او 33000 کورونه ويجاړ شول.د تېرو 50 کلونو په مهال په لومړي ځل په کينتانګ درياب کښې د اوبو کچه تر ټولو لوړه ريکارډ کړې شوه.

په دې ټولو کېسونو کښې يو څيز شريك و او هغه دا چې د تېر وخت ډېټا او د موسم اندازې او منصوبې د دې د اثراتو په مقابله کښې غلطې ثابتې شوې.

د دې سيمې د برخې جوړېدو له امله پاکستان هم په تندۍ سره د راروان موسمي بدلون خطرې سره مخ دې.تېر کال په غېر معمولي توګه مون سون د ختيزو سيمو څخه د لوېديزو سيمو په پلو راغلو. سږ کال د سنده په ټېټو سيمو کښې سخت بارانونه وشول.د سنده په دې ټېټو سيمو کښې د جولائي او اګست په مياشت کښې د 200 څخه تر 250 ملي ميټره بارانونه وشول کوم به چې په جولائي او اګست کښې کېدل خو سږ کال دا د ستمبر په مياشت کښې وشول.په ميرپور خاص،بدين او شهيد بېنظيرآباد کښې په ترتيب سره 810 ، 680 او 640 ملي ميټره بارانونه وشول.په بدين کښې په دوو ورځو کښې د اګست په 11مه او 12مه نېټه 297 ملي ميټره باران وشو چې له امله يې د سلګونو په شمېر کلي تر اوبو لاندې راغلل او د تېر کال په مقابله کښې سخته تباهي وشوه.

مسلسل باران د اوبو جمع کيدو له امله يو يرونکي خوب ثابت شوې او له بلې خوا کمزورې بنيادي ودانۍ د قدرتي آفتونو له امله پيدا شوې مسئلې هم زياتې کړېدي.د وړاندې ذکر شويو هېوادونو تجربې دا تجويز کوي چې کمزورې بنيادي ودانۍ او په خاص توګه د اوبه خور او د لويو لارو محکمو او د انسانانو د آبادۍ خپرېدو له امله د قدرتي آفتونو اثرات لا زيات شوي او د 2005 په زلزله او د 2010 او 2011 په سېلابونو کښې د پاکستان تجربه شوې.

په 2007 کښې په بلوچستان او سنده کښې د سمندري طوفان له امله چې کومه تباهي شوې وه هغه زياتره د اوبو په لار کښې د جوړې کړې شويو

خنډونو له امله رامينځ ته شوې وه دغسي په 2010 کښې د درياب د اوبو په لار کښې چې کوم خنډونو جوړ کړې شوي وو د سېلاب د تباهئ لوي اسباب ګرځېدلي وو.سړ کال اېل بي او ډي يو ځل بيا مونږ ته د 1999 د طوفان او د 2003 د سېلابونو ياد راکوي په دې دريو واړو موقعو دا معلومه شوې چې د رن کچ په پلو اېل ډي او ډي د اوبو د بهېدو په لار کښې لوي خنډ و.

موسمي بدلون په نظر کښې نيولو سره ضرورت د دې خبرې دې چې د کوم نوي آفت او تباهئ راتلو څخه وړاندې ټوله بنيادي ودانئ او انتظامي شبکه په نوي معيار جوړه کړې شي.د موسمي بدلون نامتو کمپائن چلونکي الګوري وائي چې بايد د خطرو د بندوبست ټولې طريقې زمونږ په وړاندې وليکلې شي سږ کال يوازې امريکي قدرتي آفتونو لپاره لس اربه ډالر بېل کړي او البوري وائي چې امريکي دا حقيقت منلي کوم چې اوس نړئ مني.

د سېلاب له امله د پاکستان د اوبه خور او د اوبو ايستلو په نظام هم سخت آغېز شوې.د مثال په توګه اېل بي او ډي 4000 کيوسك اوبه ايستلو لپاره جوړ کړې شوې خو سږ کال به د دې د لارې 18 زره کيوسك اوبه ووځي.دې سره به يو شمېر مسئلې پېدا شي او اوبه به بېرته په نورو وېلو راشي.دغسې انتظامي شبکه هم په نوي معيار جوړول پکار دي چې دغسې په يو څو ورځو کښې د مليونو په شمېر خلق محفوظو ځايونو ته منتقل کړې شي او کېمپونه برابر کړې شي.د صوبو او ضلعو په کچه ډيزاسټر منېجمنټ اتهارټو ته نه خو صلاحيت لرونکي او کافي آلات ورکړې شوي او نه دوي په انتظامي توګه د عملياتو تربيه لري.په دې وروستيو کښې د موسمي بدلون له امله سخت زيان

**رسېدونکي لسټ کښې پاکستان 16 نمبر ته راغلی کوم چې 2009-10 کښې په 29 نمبر و۔ په تندۍ سره راتلونکي سخت موسمي حالات مونږ ته خبردار راکوي چې په نوي معيار بنيادي ودانۍ او انتظامي ودانۍ جوړه کړو۔ راتلونکي کلونه د پاکستان او د آسيا اولس لپاره سخت تکليف رسونکي ثابت کېدې شي۔**

Daily dawn-October 23-2011

سږ کال د مون سون په اړه سختې پشن ګوئي ورکړې شوېدي. د هېواد په بره پرتو سيمو کښي د معمول څخه د 10 فيصده زيات باران امکان لويي خطرې رامېنځ ته کولی شي. تېر کال د سېلاب په مهال د شوې تباهي آغېز (اثرات) لا اوس هم موجود دي. د سېلاب څخه بچ کېدو لپاره د بنيادي وداني نامکمل بحالي د اندېښني وړ خبره ده. سندهـ کښي چرته چي سېلاب سخته تباهي خپره کړې وه ، يو بل مون سون د راتلو په حال کښي دې خو لا اوس هم د تېر کال د تباهي له امله د وېجاړې شوې وداني د بيا رغوني کار 40 فيصده پاتي دې، په پنجاب او خېبر پښتونخوا کښي دا کار 80 فيصده ترسره کړې شوې.دغسي په آزاد جمو کشمير کښي خو د بيا رغوني په کار عملدرآمد په نظر هم نه راځي. د سېلاب په مهال د انتظام په اړه اداري او انتظامي شبکه تېر کال د تباهي په مهال په ډاګه شوې، سږ کال د رېسکيو څخه تر ريليف پورې ټولي هڅي کمزورې ثابتي شوېدي.

د سترې محکمي( سپريم کورټ) لخوا د جوړ کړې شوي عدالتي کميسيون د راپور څخه وروستو د پنجاب هائي کورټ لخوا جوړې کړې شوې کمېټي په هېواد کښي د سېلاب د انتظام نظام ناکافي ګرځولی. د دې دواړو راپورونو بنيادي ځېرنه يو ډول نتيجه ورکوي. په صوبائي کچه د اوبه خور د محکمي انتظامي ناکامي ، بے دريغه کرپشن، مجرمانه غفلت او د سېلاب د اوبو په لار کښي خنډونه هغه اسباب ګرځول شوي چي له امله ئي په سندهـ او پنجاب کښي سېلاب لويه تباهي خپره کړه. د عدالتي کميسيون راپور دا په ګوته کوي چي په هېواد کښي د سېلاب د انتظام کوم مربوط نظام نشته. په جلا توګه پورته کړې

شوي ګامونه خو په عارضي توګه د ریلیف سبب ګرځېدے شي خو دا په سباؤن کښې د کوم قدرتي آفت لپاره ناکافي وي.

د آفتونو د اثراتو څخه بچ کېدو لپاره جوړ شوي نظام درې مهم جزونه لري چې پکښې خطري کمول، تیاري کول او رسپانس شامل دي. په پاکستان کښې لومړي جز ته په مشکله زیات پام شوی، دوهم جز هم خاص وجود نه لري او دریم خو ټولو ته په ډاګه شوی. اوس پکار دي چې تر ټولو وړاندې خطرو کمولو ته ترجیح ورکړې شي او دې لپاره د یو خاص نظام جوړولو ضرورت دی.د خطرو کمولو نظام باید د تالاؤنو تر انجینئرنګ محدود نه وي. په پاکستان کښې د سېلاب څخه د بنیادي ودانې د بچ کولو په اړه د خطرو کمولو نظام تراوسه یوازې د عارضي خیال پشان دی خو په دې اړه د ګامونو پورته کولو سخت ضرورت دی.د ډیزاسټر مېنجمنټ ادارو مضبوطیا او اړوند ادارو سره د دوي روابط د اهمیت وړ دي.د پنجاب عدالتي کمیسیون د سېلاب د انتظام د مربوط پلان اهمیت په ګوته کوي.

د عدالتي کمېسیون راپور د انتظامي حکومت او د سیاسي حکومت ترمینځه خلاء هم په ګوته کوي دا یو منلې شوې حقیقت دی چې د پولیسو څخه وروستو د اوبه خور محکمه په لوړه کچه د سیاست ښکار شوې.په پاکستان کښې اوبه د جاګیردارانو او د لویو زمیدارانو ترمینځه د سیاسي طاقت یو منتر دی. د اوبه خور په محکمه کښې د 17م او 18م ګرېډ افسران د اوبه خور وزیران او وزیراعلٰی نیغ په نیغه په ځای کوي او وئېلې کیږي چې د دې غېر قانوني نوکرو د تجارت قیمت 20 لاکهه روپو ته رسېدلې، که په ټوله بند کښې د جونئر

ګريډ افسران په ځائ کړې شوې وو نو دا انتظامي ناکامي نه بلکې د سياسي پرېکړو نتيجه وه.

د دې خطرناك غفلت يو بل مثال د ټوړي بند حالت دې،د سترې محکمې کمېسيون د فرورئ په 4 نېټه 2010 کښې انکشاف کړې چې غفلت 6 مياشتې وړاندې شوے اندس رېور کمېسيون په يوه غونډه کښې دا وئېلي شوي وو چې ترڅو دا بند نه وي مضبوط کړې شوې د سېلاب له امله خپرېدونکې تباهي نشي رد کېدې.سوال دا دې چې د بارانونو د پېل کېدو څخه وړاندې دې بند لپاره ضروري وسيلې ولې ببلې نه کړې شوې آيا په دې اړه دا د سياسي مشرتابه ناکامي په ګوته کوي؟.

دغسې د سېلاب په وړاندې د دې بند نه جوړول انتظامي غفلت هم په ګوته کوي دغسې دا هم وئېلي کېدې شي چې د سېلاب يو بل سبب په ځنګلونو قبضه کول هم دي او په دې اړه ځاي مشرانو انتظامي چارواکو او سياستدانانو ته معلومه وه چې څه کېدونکي دي.عدالتي کمېسيون د اوبه خور د محکمې چارواکو په ضد د سختئ کاروائئ تجويز ورکړې خو د سياسي مشرتابه او د ځائي مشرانو له امله داسې ونه شول.د صوبائي حکومت څخه په زمکه د قبضه کونکو د لسټ ورکولو په اړه هېڅ پوښتنه ونه شوه بايد د اوبه خور په محکمه کښې د جونيئر او د تجربه کارو چارواکو په ځاې کولو وجوهات اولس ته وړاندې شوې وې دې سره به دا معلومه شوې وه چې د غريبانو د تباهئ ذمه وار څوك دي.يو بل سبب د انجينئرنګ په څانګه کښې د بنيادي ودانئ کمزوري ده.د تېر کال سېلاب په مهال د اوبو رسېدلو موده په غېر معمولي توګه زياته شوې.د ګدو څخه تر

**سکهر پورې اوبه د معمول له مخې په 24 ساعتونو کښې رسېدې شوې خو دا په 33 ساعتونو کښې ورسېدې.دغسې د سکهر او کوټلي ترمينځه د اوبو رسېدو وخت 72 ساعته و خو دا اوبه په 408 ساعتونو کښې ورسېدې او د دې وجه د اوبو بهېدو په لار کښې خنډ وپه دغه موده کښې نوې جوړې شوې آبادۍ څه کردار ترسره کړې.د سندهـ درياب په مخه کښې چې کوم خنډونه جوړ کړې شوي هغه د سېلاب د تباهۍ سبب ګرځېدے شي.دا ټولې پوښتنې ځوابونه غواړي چې دغسې سږ کال د سېلاب د اثراتو څخه بچ کېدو لپاره په وخت ګامونه پورته کړې شي ګنې هېواد د بل قدرتي آفت څخه بچ کېدو لپاره هېڅ نشي کولې.**

Daily dawn-July 14, 2011

د کال 2010 د سېلاب څخه وروستو د سپريم کورټ(ستري محکمې)د هداياتو په رڼا کښې د سېلاب په اړه تحقيقاتي کمېسيون جوړ کړې شو دا کمېسيون وائي چې د تورړي بند د ماتېدو له امله د لويې تباهی بنيادي سبب د اوبه خور د محکمي غفلت و.دا راپور وائي چې د سېلاب څخه بچ کېدو لپاره جوړ کړې شوي حفاظتي ديوالونه(پشتې)د يو معياري نظام له مخې نه چلول کېږي.د دې څخه وړاندې تحقيقاتو دا په ګوته کړې وه چې د دې سېلاب ذمه وار اعلی چارواکي دي کوم چې د سېلاب د انتظام په اړه وظيفه ترسره کوي ځکه چې دوي د تيارى په اړه هيڅ نه دي کړي.دغسې د بحالی او رغوني لپاره د پارلماني کمېټی مشر هم وئېلي چې د تېر کال سېلاب په مهال تباه شوي بندونه په ورکړې شوي وخت کښې نه دي بيرته جوړ کړې شوي دا کار اول د رېليف آپرېشن له امله او بيا د سکيمونو د منظورى د تاخير له امله په وخت ترسره نه کړې شو.صوبائي حکومت د 14 اربه روپو په لګښت د بندونو جوړولو د 76 سکيمونو تجويز ورکړې و خو وفاقي حکومت يوازې 5 اربه روپۍ ورکړې او د دې په نتيجه کښې صوبائي حکومت په سباوُن کښې د قدرتي آفت څخه بچ کېدو لپاره په 41 ځايونو کښې د بندونو جوړولو ته ترجيح ورکړو او تراوسه يوازې د ورکړې شوې هدف 17 فيصده کار ترسره کړې شوې.حقيقت دا دې چې د دې بندونو جوړولو سره هم د معمولي سېلاب څخه د بچ کېدو ضمانت هم نشي ورکړې کېدے. په سندهـ کښې د سېلاب تاريخي شمېرې په ګوته کوي چې د تېر کال د سېلاب مثال نه ترلاسه کېږي.په سندهـ کښې په 1973 ، 1975 ، 1976 ، 1978 ، 1986 ، 1988 او 1992 کښې هم دغسې سېلابونه راغلي دي او د تباهی بنيادي وجه د بندونو ماتېدل نه ده په حقيقت کښې د تېر کال د سخت سېلاب بنيادي وجه د درياب د اوبو بيرته ستنېدل دي.د سندهـ په

دریاب په جوړ شویو دریو بندونو د **11** ورځو په مهال د **1.1** ملیونه کیوسك اوبو بهېدل هغه حقیقت دی چې د سېلاب سبب وګرځېدو۔د سېلاب بنیادي اسبابو ته کتنه نه ده شوې او که د بنیادي ودانۍ کارونو ته پام ونه کړی شي نو د دې مسئلې حل به په نیمه کښې پاتې شي۔د دې څخه هم انکار نشي کېدے چې د بنیادي ودانۍ د بیا رغونې کار ته دې ترجیح ورکړی شي خو باید نورو بنیادي اسبابو ته هم کتنه وکړی شي۔

په سندھ دریاب کښې د سېلاب درې اهم اسباب کېدے شي چې په کښې د ځنګلونو پرې کول،رواني اوبه او د دریاب په لار کښې خنډ پیدا کول شامل دي که دې دریو بنیادي اسبابو ته پام ونه کړی شي نو د قدرتي آفتونو خطره به په ځای پاتې شي۔د غېر معمولي موسم یو بنیادي سبب موسمي بدلون دی او مونږ ته پته ده چې دا مسئله په ځایي توګه نشي حل کېدے خو دې لپاره مونږ سره تیاري کول یوازنۍ لار ده۔د دې په بدل کښې مونږ د نوي معیار له مخې د انجینئرنګ کار ته خاص پام کولی شو۔

د تربېلا بند د جوړېدو څخه وړاندې به هر کال سندھ ته **3** لکه کیوسك اوبه داخلېدې او دا به په یو څو کلونو کښې **5** لکه کیوسك ته رسېدې۔ د دې له امله څو لسیزې وړاندې د انتظامي نظام جوړولو ضرورت محسوس شو۔د تربېلا بند جوړېدو څخه وروستو د سېلاب د زیات خطر امکان ختم شو او له امله یې په لویه اندازه کچه زمکه جوړه شوه او انسانانو په دې آبادي جوړه کړه۔د یوې اندازې له مخې په سندھ کښې په **5** لکه ایکړه کچه زمکه انسانانو آبادۍ جوړې کړېدي او دومره آبادۍ انتظامي مسئلې هم جوړې کړېدي او په نتیجه کښې یې د

سېلابي اوبو په وړاندې خنډونه جوړ شوي.غېر قانوني ځايي بندونه کوم چې د کروندې لپاره جوړ کړې شوي د سېلابي اوبو په لار کښې خنډ جوړوي او حفاظتي ديوالونو سره نزدې د سېلاب د سختو څپو سبب جوړيږي.

د وار په وار سېلابونو راتلو سره دا ثابته شوې چې دغه اړخونه لکه انتظامي ناکامي د سخت تباهۍ بنيادي اسباب ګرځي د لويو بندونو جوړولو پشان د انجينئرنګ مسئلو حل لپاره به د وړاندې نه د موجوده انجينئرنګ بنيادي ودانو ته بيا کتنه کول وي.موسمي بدلون د انجينئرنګ مسئلو حل د وخت څخه وړاندې ناکامۍ سره مخ کولی شي.په عارضي توګه د مسئلو حل صورتحال نور هم پيچلي کولی شي او په دې اړه د پوهې د څرګندوني ضرورت دې.

پاکستان چې په نړۍ کښې د نهرونو غوره نظام لري اوس تباهۍ سره مخ شوې په سندھ او پنجاب کښې د ځنګلو پرې کول لوړې کچې ته رسېدلي او د سېلابي اوبو په لار کښې خنډونه پيدا شوي.پاکستان په هغو هېوادونو کښې شامل دې چرته چې ځنګلې ډېرې کمې دي د يوې اندازې له مخې په هېواد کښې هر کال په **66718** ايکړه زمکه ځنګلي له مينځه ځي دغسې هر کال د درياب پغاړه په **5683** ايکړه زمکه ځنګلي ختمېږي.د دريابونو پغاړه ځنګلي نه يوازې د سېلاب زور کموي بلکې د درياب د غاړې د استحکام او مضبوطيا سبب هم ګرځي.

په دې وروستيو لسيزو کښې ټمبرمافيا په غريزو سيمو کښې دا ځنګلي له مينځه يوړې او په هوارو سيمو کښې په زمکه قبضه کونکو خلکو دا ختمي کړې.په سندھ او پنجاب کښې کښې نوې آبادۍ او د کروندۍ مقصد لپاره ځنګلي

ختمې کړې شوې او بيا د دې ځنګلو ازالې لپاره هېڅ هڅه ونه کړې شوه.د سېلاب په لار کښې د ځنګلو نشت والې به سېلاب ډېر حساس کړي.

د لنډې مودې په اقداماتو خبره کولو سره بايد حکومت د اوږدې مودې په اقداماتو هم غور وکړي.په هماليه کښې د واورې وېلې کېدو له امله په پاکستان،هند،بنګله دېش او نيپال کښې د سخت سېلاب خطرې زياتې شوېدي او دا مسئلې مربوط حل غواړي.

Daily dawn-June 21, 2011

## د قدرتي آفت مخ نيوې

جاپان په دې وروستيو کښې د زلزلې او سونامي سره مخ شوې.د نړۍ د لوي اقتصاد او د ټېکنالوجۍ څښتن د يو پرمختللي هېواد په حېث په جاپان کښې د

زلزلي ځخه محفوظي ودانی هيڅ غيب نه لري او په وخت د سونامي د خبرداري ورکولو يو مضبوط نظام لري۔

د جاپان قدرتي آفت د پاکستان په شان هيواد لپاره کوم سبق ورکړي۔ که سرسري وکتلي شي نو مونږ ته به معلومه شي د معمولي شدت آفت هم د نقشي ځخه په آسانی سره ساحلي سيمي ختمولي شي د داسي د تباهی ورځ يو څو حقيقتونه په ګوته کوي کوم چې لاندې ذکر شوي دي۔

بحر هند د راتلونکي سونامي په اړه په صحيح توګه د معلوماتو ورکولو هيڅ نظام نه لري او نه دې لپاره په پاکستان کښې د ناپ لګولي شوي آلات په وخت د خبرداري ورکولو صلاحيت لري۔د خبرداري ورکولو او خلق محفوظ ځايونو ته د رسولو ترمينځه ډير لږ وخت وي او په نتيجه کښې يې لويه تباهي وشي۔

د پاکستان په ساحلي سيمو کښې د سونامي په وخت د خلقو محفوظو ځايونو ته د رسولو نه منصوبه شته او نه د دې نه خلق خبر دي۔په ځيني سيمو کښې د نړيوالو مرستندويه ادارو لخوا څه لږ ډير کار شوې خو د دې صلاحيت اندازه لګول لا پاتې دي۔د قدرتي آفت په وخت خلق محفوظ ځايونو ته رسول دومره کم وخت غواړي لکه په څومره وخت کښې يو ويډيو ګيم کولي شي يو رښتني آفت ټول انتظامات ناکافي ثابت کولي شي۔

په 1100 کلو میټره ساحلي سیمو کښې خلق د سونامي د خطرو څخه ډېر کم خبر دي ډېر خو دا خیال هم نه لري چې د سمندر دا خاموشي څپې به دومره زوروري شي.

په ساحلي سیمو کښې اوسېدونکي خلق او په خاص توګه په وړوکو جزیرو کښې آباد خلق د خطرو په وخت د بچ کېدو هېڅ ځائ نه لري او دوي لپاره د سونامي راتلل د اوبو قبر جوړولي شي.دغسي داسي حالاتو سره په بېړی کښې سفر کونکي د زرګونو په شمېر خلق کوم چې څو اونی د هر څه نه نا خبره وي هم داسي خطرو سره مخ کېدے شي.

د ساحلي سیمو خلق په حقیقت کښې په وخت د خبرداري ترلاسه کولو څخه محروم وي ډېر خلق به د سونامي څخه په هغه وخت خبروي چې کله سونامي د دوي په سر ودرېږي. دوي د سونامي په وخت د ځان بچ کولو لپاره د ضروري ګامونو پورته کولو څخه هم نا خبره وي خو ضروري ده چې ټول خلق د راتلونکي سونامي د قدرتي علاماتو څخه خبر وي.

د قدرتي آفت د رسپانس ذمه واري اداري هم په امتحان کښې دي.اوسني سپلابونو په صوبائي او ضلعي کچه د ډیزاسټر منېجمنټ ادارو صلاحیتونه ټولو ته په ډاګه کړي.د قدرتي آفتونو په مهال محفوظ ځایونو ته د خلقو رسول یو یرونکي انتظامي خوب جوړ شوي.

د کراچی لوي ښار کوم چې د ساحل پغاړه پروت دے اوسنی ودانی او خاوري یی یو قدرتي آفت له مینځه وړی شي.د ښار انتظام کونکو د تېرو کلونو په مهال د سمندري طوفانونو څخه هېڅ نه دي زده کړی.دغسي نوري د زیاتي آبادی

ساحلي ضلعې او سيمه لکه جيواني ګوادر،پسني،اورمړا،سمياني،بدين او ټهټه د قدرتي آفت د خطرو څخه نا خبره دي.

د خطرې د زور اندازه د دې حقيقت څخه لګول کېدے شي چې په کراچۍ او د مکران په ساحلي سيمو کښې څلور لويې کمزورۍ دي د مکران ټېټې پرتې سيمې د زلزې لويې خطر سره مخ دي او دا سيمې د نړۍ هغه ځايونه دي چې د کومو په اړه تجزيه نه ده شوې. په عمومي توګه په رېکټر سکيل د **8.0** شدت زلزله په دغه سيمه کښې سخته سونامي راوستلې شي.په دې وروستيو کښې چې کوم غېر قانوني ودانۍ جوړې شوېدي د داسې درجې يو جړق هم د کراچۍ په شان ښار رانسکورولې شي. د کوم سونامي په صورت کښې به د مکران د ساحلي سيمو اوسېدونکو سره ځان بچ کولو لپاره د **7** څخه **15** مينټو پورې وخت وي خو د کراچۍ ساحل ته رسېدو لپاره به د دوي د يو ساعت څخه زيات وخت لګي او په داسې صورت کښې به لويه تباهي وشي.د پاکستان ساحلي سيمې کله هم سونامي سره مخ کېدے شي او دې څخه هېڅ انکار نه شي کېدے. په حقيقت کښې د پاکستان ساحلي سيمو لپاره د سونامي نامه نوې نه ده. د نومبر په **28** نېټه کال **1945** کښې د پاکستان د مکران په ساحل کښې زلزلې په سمندر کښې سخته سونامي پيدا کړې وه. سمندري طوفان د پاکستان ساحلي سيمو ته ورپېښنه يوه بله خطره ده.داسې ثبوتونه شته چې د سمندري طوفان څپې زياتې شوېدي.د يو راپور "په پاکستان کښې د ډيزاسټر منېجمنټ پالېسو او نظام ته بيا کتنه " له مخې د سنده ساحلي سيمې تر ټولو زياتې د سمندري طوفان سره مخ دي که تاريخ ته وکتلې شي نو د سنده ساحلي سيمو کښې په يوه پېړۍ کښې څلور لوي سمندري طوفانونه راغلي د **1971** او **2001** ترمينځه **14**

سمندري طوفانونه رېکارډ کړی شوي او دا د سختې خطرې اشاره ورکوي.د پاکستان ساحلي سيمې يو ځانګړې قدرتي سپر(ډهال) د ځنګلو په صورت کښې لرې کوم چې د سمندري طوفان او سونامي مخه نيولې شي دا قدرتي نظام د سمندري د څپو 80 فيصد زور کمولې شي او د دې په بدل کښې د انسانانو په لاس جوړ شوې ودانۍ د قدرتي آفت هېڅ مقابله نه شي کولې.جاپان د سمندر پغاړه په کمياشي سيمه کښې د ماربور په ښار کښې د نړۍ لوې سمندري ديوال په جوړولو 1.5 ارب ډالر مصرف کړل خو دا ښار سمندري طوفان ويجاړ کړو.

تحقيق ثابته کړې چې کومو سيمو کښې ځنګلې وې دلته د سونامي په مهال کم زيان شوې.په پاکستان کښې د حفاظت دغه ذريعه په ختمېدو ده. د 1970 څخه وروستو د ساحل پغاړه دا ځنګلې دريو کښې يوه برخه پاتې شوې او ورسره د قدرتي آفت خطرې زياتې شوېدي. پاکستان ته په سباؤن کښې د کوم قدرتي آفت مخ نيوې لپاره د خبردارې نظام، د نوې ټېکنالوجي ، تياري کول او د سېلاب په صورت کښې مکمل پلان جوړول ضروري دي. تر ټولو زياته پام لرنه بايد په ځايي کچه د خطرو انتظام ته وشي. په دې کښې د قدرتي آفت د علاماتو څخه خلق خبرول، خلق د بچ کېدو په طريقو پوهول، محفوظ ځايونه جوړول او د رضا کارانو تربيه شامله ده.

Daily dawn – April 19,2011

## د بحالۍ په لار کښې ستونزې

سېلاب تېر شو خو د تېرېدو سره يې تباهي هم خپره کړه. د دې آفت د زحمونو په رغېدو کښې به کلونه موده لګي. که يو خوا د رېليف مرحله پاې ته رسېدونکي ده خو په وخت د رغوني او بحالۍ مرحله کومه چې ډېره لازمه ده کوم تاخير نشي زغملې. د کېمپ ژوند کوم چې يو آزمائش وي، دا به هلته ختم شي کله چې دغه سېلاب ځپلي په خپلو ويجاړو کورونو کښې بېرته آباد شي.

په وخت رغوني لپاره په تندۍ سره د بندوبست کولو ضرورت دې کوم به چې په ځپلو سيمو کښې د ژوند بچ کولو د پړاو څخه د ژوند تېرولو په پلو ژوند بېرته پېل کولو کښې مرسته وکړي.په دې کښې د بيا آبادولو،د لائيولي هوډ بحالي،د بنيادي ودانۍ بيا رغونه،او بحالۍ لپاره د منصوبې جوړولو مرحله شامل دي او دا مرحله يو لوي چېلنج دې.د دې لوي چېلنج اندازه د تباهۍ د ډېټا(شمېرو)څخه لګول کېدے شي.

په 23 دسمبر د اېن ډي اېم اے جاري شويو شمېرو له مخې په هېواد کښې د 1.9 مليونو څخه زيات کورونه ويجاړ شوي.سندھ صوبه تر ټولو زياته ځپلې شوې چرته چې 1.1 مليونه کورونه ويجاړ شوي.

په دې راپور کښې د بنيادي ودانۍ لکه د سړکونو،پلونو،د سرکاري دفترو او د اوبو د نالو اندازه نه ده ورکړې شوې خو بېلا بېل راپورونو په دې اړه اړه معلومات ورکوي.د يونيسکو د يو راپور له مخې د تباه شويو سکولونو شمېره 10 زره ده چې له امله يې د 1.5 مليونو څخه تر 2.5 مليونه پورې په ماشومانو آغېز شوې.د پنجاب حکومت د ابتدائي اندازې له مخې د 67 اربه

روپو زيان شوې د سندھ د پي ډي ايم اے په وېب پاڼه د زيان اندازه 446 اربه روپۍ ورکړې شوې.

د سېلاب له امله تر ټولو زيات زيان د کرکيلي په څانګه کښې شوی د کوم اندازه چې په سندھ کښې 134 او 112 اربه لګول شوې.د سندھ د صنعت محکمې سپکټر تصديق کړې چې په سندھ کښې 67 صنعتي يونټې تباه شوېدي.دغسې د سندھ د کرکيلي محکمې اندازه لګولې چې د کرکيلي څانګې ته د 102 اربه روپو زيان رسېدلې.د يو اېن او سي ايچ اے د يو راپور له مخې کوم چې د اګست په 10مه نېټه جاري کړې شوې،په خېبرپښتونخوا کښې 281 پلونو او 283 سړکونو ته زيان رسېدلې.دغسې په بلوچستان کښې لويه تباهي شوې. په دومره لويه اندازه تباهي د بحالی په لار کښې لويې ستونزې پېدا کړيدي.وفاقي کابينې ته وئېلې شوي چې د ټول زيان اندازه 43 اربه امريکائي ډالر لګول شوې کوم چې د پاکستان د جي ډي پي 25 فيصده جوړېږي.په ځپلې شوې سيمو کښې به د کرکيلي څانګې ته خاص پام کول وي.د سندھ او پنجاب زياتره سېلاب ځپلې سيمې د کرکيلي په اقتصادي انحصار کوي.د ژمي فصل کرلو او لکونو خلقو ته غنم رسولو ته د خاص پام کولو ضرورت دې. په دې کښې تاخير سره به د کلي والو سيمو اقتصاد تباه شي او سخت بحران به پيدا شي.د دې خطرې مخ نيوي لپاره به حکومت ته د اوبو ايستلو،د اوبو د وېلو بيا رغونې،تخم رسولو او د سرې ورکولو پشمول نورو چارو لپاره په تندی سره ګامونه پورته کول وي.

د دې څېزونو کمې رسنې سره به نرخونه زيات شي.د ژمي فصلونو کرلو او د څپلو تکليف کمولو لپاره په لنډه موده کښې د ګامونو پورته کولو ضرورت دې چې دغسې ښه فصلونه وکرل شي او دا مسئلې پېدا نه شي،دې سره به حکومت په آرام شي او د بحالۍ په مرحله به آغېز هم ونه شي.د بحالۍ پړاؤ ژوند بحال کولو لپاره پېل کړې شوې،په دې پړاؤ کښې به په انفرادي توګه څپليو او په اولسي کچه خدماتو ته پام کول وي.د قدرتي آفتونو د انتظام ډېر پوهان د بحالۍ پړاؤ په ښه ډول د بيا رغونې او د کلي اقتصاد ته د پرمختګ ورکولو موقع ګڼي.

د لويو ودانو رغونې او سوشو اکنامك وېستيا لپاره د ادارې په کچه يو مربوط پلان پکار وي.د نړيوال بانك" انډيپنډنټ ايولويشن ګروپ"هم په خپل راپور کښې وئېلي دي چې پاکستان ته د اوبه خور په محکمه کښې د اصلاحاتو کولو يوه ځانګړې موقع په لاس ورغلې.راپور وائي چې د زمکو اصلاحات کول يا په دې غور کولو لپاره په بلوچستان،سندهـ او د پنجاب په سوئېلي سيمو کښې د لويو جاګيردارانو په ضد يوه ښه موقع په لاس راغلې.د زمکې په اړه غوره منصوبه د انسانانو آبادۍ په بيا رغونه کښې مرسته کولې شي.د زمکې په اړه د منصوبې نشتوالي د پاکستان کلي والو سيمو او ښارونو لپاره ډېر خطرناك ثابت کېدے شي.د تېرو کلونو په مهال د سېلاب په وړاندې پرتو سيمو کښې د بنيادي ودانۍ لوي سکيمونه منظور شوي. په ځائي توګه د جوړ کړی شوؤ بندونو شبکه،په غېر قانوني توګه د اوبه خور نهرونه او د سېلابي اوبو په لار کښې خنډونه لا خطرې پېدا کوي،په ماحولياتي توګه کمزورې ودانۍ د تباهۍ خطرې لا زياتوي.

د بحالۍ پړاو په صحيح توګه د دې کمزورۍ لرې کولو يوه لويه موقع ده د زمکي اصلاحات او په خاص توګه د کچه زمکي په انصاف سره وېش او په غېر قانوني توګه د قبضه شوې زمکي ستنول به د سېلاب د سختي تباهي په کمولو کښې مرسته وکړي.

تر ټولو لوي چېلنج به د دې په لار کښې اشرفيه وي ځکه چې د دې جاګيردارانو له امله د زمکي اصلاحات يو نه پوره کېدونکي خوب جوړ شوی.په پاکستان کښې سوشل عدم توازن ختمول به د جمهوريت مضبوط بنياد جوړ شي.د بحالۍ په پړاو کښې به تر ټولو لوي چېلنج د ذريعو استعمالول وي.د يوې ورځپاڼې راپور له مخې اوسني وفاقي بجټ د دفاع او پرمختيا په اړه لوي بدلون سره مخ شوی.

کروندګرو ته زياتي 110 اربه روپۍ بېلې کړی شوې خو بيا وروستو 73 اربه روپۍ پاتې شوې چې له امله يې پرمختګ په نيمه کښې پاتې کېږي.

د شريکو ګټو کونسل هر يو ځېلي لپاره د 1 لك روپۍ ازالې ورکولو اعلان وکړو خو صوبې وائي چې دا نشي زغملی،د سندھ د پلاننګ او پرمختګ سلا کار په واضحه توګه وئېلي دي چې دې مقصد لپاره صوبه 190 رابه روپۍ نشي برداشت کولی.

د ګڼ شمېرو وجوهاتو له امله نړيواله مرسته هم کمه شوې. ملګرو ملتونو په پاکستان کښې"پاکستان فلډ ايمرجنسي رسپانس پلان"پېل کړې کوم ته چې 2

اربه ډالر پکار دي. د دې پلان مقصد 14 مليونه خلقو ته د 483 پروژو د لارې د انساني همدردۍ په توګه مرسته رسول دي.دغسې د بحالۍ لپاره د اربونو ډالرو ضرورت دې.په سېلاب ځپلو سيمو کښې د اقتصاد بحالۍ لپاره په لويه کچه د پرائيويټ سرمايه کارۍ کولو ضرورت دې او بايد د دې سرمايه کارۍ مخه ونه نيول شي لکه څنګه چې په 1930 کښې په امريکا کښې شوې وو. د امريکې اولس مشر روز وېلټ د يو پلان اعلان وکړو چې له مخې يې د سړکونو،پلونو،سکولونو او نورو اولسي کارونو لويې پروژې پېل شوې او 4 مليونه خلقو ته د روزګار موقعې پېدا کړې شوې. بايد دغسې پروژې دلته هم پېل کړې شي،دا د سېلاب ځپلو ضرورت هم دې او د دې سره به ځايي مارکيټ بيا په ښه کېدو شي.د قرضو ورکولو په مرسته وړوکي او د مينځنۍ درجې کاروبار به ځپلي د دې بحران څخه وباسي.اوسني لويه خساره او زيات شوي دفاعي اخراجات او پرمختيائي ځانګې ته کمه پاملرنه کول به اولسي حکومت ته پيچلي مسئلې پېدا کړي.دا حقيقت په نظر کښې ساتلو سره د بحالۍ پړاو لپاره په سمدستي توګه د ماسټر پلان ضرورت دې او بايد دا پلان د لنډې مودې، د مينځنۍ مودې او اوږدې مودې په هدف مشتمل وي او بايد دا اهداف ترلاسه کولو لپاره وسيلې په صحيح توګه استعمال کړې شي.

Daily The News – October 10, 2012

## د قدرتي آفت غېر فطري اسباب

د هغو ادارو په کردار د ځان پوهولو ضرورت دې کومو چې د اوسنۍ سېلابونو په مهال د سېلاب اثرات زيات کړي تراوسه پورې ډېر سېلابونه راغلي خو دا

وروستي سېلابونه تر ټولو سخت ثابت شوي.د اندازو لګولو نه مخښکې هر یو تن وئېلي شي چې باید مونږ سره د قدرتي آفت څخه بچ کېدو لپاره هر ډول آلات موجود وي.

د اګست په میاشت کښې په یوه اونۍ کښې دننه د مون سون د نیم څخه زیات بارانونه وشول کوم چې د معمول له مخې په دریو میاشتو کښې کیږي او سږ کال دغسې د بارانونو موده غېر معمولي وه.

په سندهـ کښې یوازې د **11** ورځو په مهال **3** بېراجونه د **1.1** ملیونه کیوسک څخه زیاتو اوبو سره مخ شول او د سېلاب دا زیاتوالي مونږ ته په واضحه توګه په ګوته کوي چې مونږ ته د موسمي بدلون څخه بچ کېدو لپاره په سنجیده توګه د رسپانس میکانزم جوړولو ضرورت دې.

د اوسني قدرتي آفت تجربې د انتظامیې لخوا د قدرتي آفت په مهال رسپانس ناکافي ثابت کړو.د سېلاب په وخت زمونږ د ډیزاسټر رسپانس نظام په ادارتي توګه په آزمېښت پوره ونه ختلو. نېشنل ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټي او د دې صوبائي او ضلعي ادارې قدرتي آفت په خپله په کار کولو مجوره کړې خو صوبائي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ او ضلعي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ ناکامه ثابتې شوې.د قدرتي آفت په مهال ضلعي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ د خلکو بچ کولو لپاره لومړې او تر ټولو آخري مهمې ادارې دي.د نېشنل ډیزاسټر منېجمنټ آرډیننس د شق **21** له مخې ډسټرکټ ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ په خپلو ضلعو کښې د ډیزاسټر منېجمنټ پلان ذمه وارې دي خو دوي په مشکله سره دا ذمه

وارۍ پوره کوي.یو شمېر نړیوالو مرستندویه ادارو په هېواد کښې انتخاب کړې شوې ضلعي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ ته تکنیکي او استعداد زیاتولو لپاره لوجېسټکي مرسته ورکړې خو صوبائي حکومتونه هر کله صوبائي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ او ضلعي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ اتهارټو ته د ادارو حېثیت ورکول یو سنجیده تجارت ګڼي. که یو خوا ضلعي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ د صوبائي حکومتونو تر انتظامي کنټرول لاندې دي خو که دوي د

کومې پېښې په مهال کومې مرستې لپاره مرستندویه ادارې سره تماس ونیسي نو د اپن ډي ایم اے لخوا یې سخته بےعزتي کولې شي.

پنجاب خو لا تراوسه په صوبائي کچه صوبائي ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټي هم نه لري او پاتې په نورو صوبو کښې چې کومې جوړې کړې شوې دي دوي د کمې عملې او د تکنیکي او د اقتصادي مسئلو سره مخ دي.زمونږ مصنوعي ډیزاسټر منېجمنټ مشنري لا د غفلت په خوب اوده وه کله چې قدرتي آفت اوبو جمع کولو لپاره بندونه ډک کړل او اوبه بېرته راستنې شوې.

خو د دې څخه هم زیاته د افسوس خبره دا ده چې په سباوُن کښې د داسې قدرتي آفتونو د تباهۍ څخه بچ کېدو لپاره د بچ کېدو او د رسپانس نظام لپاره د سرمایه کارۍ کولو ضرورت دې.ډیزاسټر منېجمنټ اتهارټۍ ته په هره کچه د پام کولو سخت ضرورت دې چې پکښې د دوي نظام ښه کول، صلاحیت لرونکې عمله په ځای کول، تکنیکي او مالي وسیلې شاملې دي.

مثالي ضلعي ډيزاسټر منيجمنټ اتهارټۍ بايد د تحصيل او د يونين کونسل په کچه پراختيا ولري خو د دې دا مطلب نه دې چې د دې اختيارات دې هم ښېور کرېټ طبقې ته ورکړې شي بلکې چې دا داسې اداري جوړې کړې شي چې فعاله وي په لانديني کچه کار کوي او په حقيقي توګه يو ادارتي نظام ولري او کومې چې د موسمي بدلون په وخت د رسپانس صلاحيت ولري.د دې په اوسني نظام کښې ډې سي او ګان د ضلعي ډسټرکټ منيجمنټ اختيار لري  خو دوي د ډيزاسټر رسپانس استعداد ډېر کم لري او ضرورت د دې خبرې دې چې دې لپاره د صوبو او ضلعو په کچه مربوط ميکانزم جوړ کړې شي.

بايد د قدرتي آفت/خطرو نقشه يو د کار وړ د ډيزاسټر رسپانس نظام لپاره مضبوط بنياد وي خو داسې لا تراوسه پورې نه دې ليدل شوې او د قدرتي آفت په مهال د دې کمې محسوس شي.

خوئېدونکي قدرتي آفتونه لکه د زمکې خوئېدل،د زمکې لا مينځه تلل،د ځنګلونو د پرې کولو له امله د درياب غاړې له مينځه تلل،په تندۍ سره د اوبو ناوړه کېدل او داسې نورې خطرې سختې يرونکې دي خو بيا هم تراوسه دا هېواد د قدرتي آفت ګڼ اړخيزه نقشه پلان او تياري نه لري.

د قدرتي آفتونو د کومو ځخه چې بچ کېدل ممکن وو لويه وجه په وخت د خبردارۍ د نظام نشت والې دې په وخت د خبردارۍ نظام د قدرتي آفت د رسپانس ميکانزم لپاره لازمي جز دې او دا د قدرتي آفتونو اثرات کمولې شي.د پاکستان د سېلاب نقشه د قدرتي آفت په مهال د خبردارۍ ورکولو د نظام ځخه

محرومه ده.د ناله لئي نه علاوه په غبرګو ښارونو اسلام آباد او پینډۍ کښې هم د خبردارۍ هېڅ نظام نشته. په وخت د خبردارۍ نظام ډېر د اهمیت وړ دې او په خاص توګه د غره ایزو سیمو لخوا د طوفان راتللو په وخت ځکه چې که دا نظام وي نو خلك په آسانه محفوظو ځایونو ته ځان رسولې شي.د اوسني سېلاب په مهال طوفان په کوه سلیمان کښې آباد خلك په سوئېلي پنجاب کښې د خبردارۍ د نظام د نشت والي له امله وجړقول.په **2007** کښې چې کله په بلوچستان او د سندهـ په لوېدیزو سیمو کښې طوفان راغلو نو په کیهتر منطقه کښې د خبردارۍ د نظام نشت والي له امله یی خلك خطرو سره مخ کړل.

د دریابونو د یو نظام په صورت کښې د سېلاب پېشن ګوئي آسانه وي خو زمونږ نظام لا ډېر کمزورې دې.ټېلي مېټري نظام په دې اړه څه کردار ترسره کوي خو دغه نظام هم کار کولو ته پرې نه ښودلې شوے دې له امله په سندهـ کښې د تیارۍ کولو په اړه کوم خاص هڅې په نظر رانه غلي چرته چې د ابتدائي سېلاب اندازه **0.8** ملیون کیوسك ښودلې شوې وه او د دې څخه د صوبې خلك نا خبره وو.د توړې بند ماتېدو له امله په صوبه کښې لویه تباهي وشوه او د دې قیمت به د سندهـ د کشمور څخه تر دادو او جامشورو پورې سیمو ته ادا کول وي.په سندهـ کښې د سېلاب ناڅاپي تباهی د حکمرانی نظام په ډاګه کړو.

په دغه معامله کښې د وفاق او د صوبو ترمینځه د اعتماد کمبوت د نا آرامۍ یوه لویه ذریعه وه.د یوې نامتو ورځپاڼي له مخې د اېف اېف سي راپور وائي چې په پنجاب کښې د سېلاب ځپلیو شمېره **331** فیصده زیاته شوې.دا شمېره

**د اګست په 20 نېټه 1.9 مليونه ورکړې شوې وه او د ستمبر په لومړۍ نېټه د جاري شوي راپور له مخې 8.2 مليونه ته رسېدلې.د ايف ايف سي له مخې په شمېرو کښې اختلاف نشته لکه څنګه چې د مړو شويو ځاروو شمېر د 24788 څخه د 129416 ته رسېدلې.د دې قدرتي آفت څخه مونږ ډېر څه زده کولې شو چې دغسې مونږ د راتلونکو کلونو لپاره يو مربوط او مضبوط ادارتي نظام جوړې کړې شو.**

Daily the news- September 19, 2012

## د سېلاب د سختې تباهې سبب ګرځېدونکي عوامل

**د هېواد په ټولو صوبو کښې دريابونو سږ کال د قدرتي آفت په مهال سخته تباهي جوړه کړې.دې قدرتي آفت د کمزورې سول بنيادي ودانۍ نه واخله د تار تار انتظامي شبکې پورې هر څه لا مينځه وړي.اوسني سېلاب د زمکې په مخ تر ټولو زيات تباهي خپرونکې ثابت شوې.د ډوبن رپېټنايکي له مخې د 1986 او 1995 ترمينځه په قدرتي آفتونو کښې په 367000 مړو شويو کسانو**

کښې نيم خلك د طوفان او سېلاب له امله مړه شويـد 1998 نه تر 2002 پورې په نړۍ کښې 683 سېلابونه راغلي چې پکښې 97 فيصده په آسيا کښې راغلي. دا صورتحال مونږ ته واضحه اشاره راکوي چې د راتلونکو کلونو په مهال راتلونکې تباهي مونږ ته د پاکستان پشان هېوادونو کښې د ډيزاسټر منېجمنټ په اړه د اوسني نظام بدلولو ضرورت په ګوته کوي.

د سنده درياب له امله چې په پنجاب او سنده کښې کومه تباهي شوې انساني آبادۍ لپاره لا اوس هم يو عذاب دې او د مون سون د بارانونو په موسم کښې دا نوره تباهي هم خپروليـ شيـد دې تباهۍ قدرتي او انساني عوامل دواړه ذمه وار ديـد ډلهوئيسي پوهنتون پروفيسر مارټين ګېبلنګ له مخې 6 زره کاله مخکښې سنده د ګرم موسم په وخت ډېر زيات زور لرلو خو چې کله 4 زره کاله وړاندې موسم يخ شو نو د سنده لويه برخه په وچه بدله شوه او دشتې جوړې شوې.پروفيسر ماحولياتي بدلون ته هم ګوته نيسي او د انسانانو له امله پېدا شوي بدلون هم د قدرتي آفت ذمه وار عنصر ګڼي.کله چې موسم يخ و نو د سمندر څخه به بحارات کم پورته کېدل.مون سون به کمزورې وو او د سنده د درياب زور به کم و. په داسې صورتحال کښې موسمي بدلون سږ کال د مون سون په شاه يو لوې عامل ګڼلي شيـد تاريخي شمېرو نه تصديق کېدو له امله د موسمي بدلون په اړه اندازې او پېشنګوئې اکثر غلطې ثابتې شي سږ کال په خېبرپښتونخوا کښې يو ځانګړې د مون سون موسم و چې مثال يې په تېر وخت کښې نه ترلاسه کېږي دا اندازه چا هم نه وه لګولې چې په دې وروستو اونيو کښې به څه کېږي.دا صورتحال په رښتيني توګه لا خطرناك دې چې دا اندازه نشي لګول کېدې چې تراوسه څه شوي او په راتلونکي وخت کښې به څه

کېږي.د موسمي بدلون له امله پېدا شوې مسئله د پاکستان فلډ منېجمنټ نظام لپاره يو لوې چېلنج دې.سخت او غېر متوقع موسمي حالات د قدرتي آفتونو د انتظام اهداف بدلوي او دا د خپل صلاحيت ترمخه د قدرتي آفت په مهال رسپانس ناممکنه کوي.د يو شمېر هغو ذمه وارو عواملو څخه چې د قدرتي آفت په مهال ستونزې پېدا کوي د وخت څخه وړاندې د خبرداری د ځايي نظام نشت والي،صلاحيت نه لرونکي ډيزاسټر منېجمنټ،د سېلاب انتظام لپاره د پلان نشته والي او د سېلاب د اثراتو مخنيوي لپاره د نظام نشت والي ګڼل کېږي.قدرتي آفت د بېلا بېلو ايجنسو او په خاص توګه په صوبائي او ضلعي کچه د ډيزاسټر منېجمنټ ذمه وارو ادارو ترمينځه موجوده خلاء هم په ډاګه کړې.

ټولې صوبې تباهی سره مخ شوېدي په داسې حال کښې د فيډرل فلډ کمېسيون راپور کوم چې د اګست په 20مه نېټه جاري شوې وائي چې په سندھ کښې تر ټولو زياته تباهي شوې چرته چې په 7.71 مليونه خلقو کښې 3.88 مليونه خلك سخت ځپلي شوېدي.دغسې په 303698 مجموعي کورونو کښې 211375 کورونه سېلاب وړي.په سندھ کښې په مجموعي توګه په 11027 کليو کښې 4359 ځپلي شوي.دغسې په مجموعي توګه په 1.55 مليونه ايکړه فصلونه اوبو وړي.د سندھ حکومت د يو بيان له مخې د ټولو سېلاب ځپليو شمېره 7 مليونه ده او ورځ په ورځ دا شمېرې نورې هم زياتېږي.دغسې په خېبرپښتونخوا او سوئېلي پنجاب کښې هم آفت په خلکو سخت آغېز کړې.

په دغه رايه کښې هېڅ اختلاف نشته چې د قدرتي آفت تباهي ډېره زياته وه او د دې په بدل کښې رسپانس په نظر رانه غلو۔د خبرپښتونخوا د موسمياتو دفتر ځکه خبردارۍ ونه رسولو چې په چارسده او نوښار کښې د ډې سي او په دفترو کښې فېکس مشينونو صحيح کار نه کولو۔دغسې کمزورۍ په سندھ کښې هم رامينځ ته شوېدي۔

د جي آئي اېس په بنياد د سېلاب انتظام لپاره داسې يو جامع پلان پکار دې کوم په هغو ځايونو کښې د بندونو ضرورت په ګوته کړي چې له امله ئې د لوي زيان څخه بچ کول ممکن شي۔ د مېډيا راپورونه وائي چې په دې اړه يوازې د سياستدانانو لخوا د کوم ادارتي مېکانزم جوړولو په ځائ قياسونه راغلي۔د سندھ په ټوري او غوث پور بندونو کښې د غفلت له امله سخته تباهي وشوه او سېلاب د سندھ شمالي سيمې په ولکه کښې واخيستې او د لکونو په شمېر خلق بےکوره شول۔د دې په نتيجه کښې په تاريخ کښې د سندھ په کشمور، جېکب آباد، شکار پور او قمبر شهداد کوټ کښې سخت انساني بحران پيدا شو۔ د ټرانسپورټ او خبردارۍ نشتوالي له امله ډېر لږ خلق محفوظ ځايونو ته ونه رسېدل او د رسېدو په لار کښې سخت مشکلاتو سره مخ شول۔د **7** مليونو څخه زياتو خلقو خپل کورونه او د ژوند تېرولو وسيلې په دې سېلاب کښې د لاسه ورکړې او د دوي د سکون ژوند ئې ستونزو سره مخ کړو۔

په يو بند کښې د **10** مليونه کيوسک اوبو راتللو د حقيقت څخه سترګې پټولو سره هنګامه جوړه کړې شوه چې که د کالاباغ په شان لوي بند موجود وې نو دومره تباهي به نه کېدله او د دې لوي آفت وجه د لوي بند نشتوالي دې خو

تراوسه کوم د انجنيئرنګ يا د سېلاب په اړه منېجمنټ د دې رائے ملاتړ نه دی کړې. په سکهر ، ګدو او کوټړي بېراج کښې په لسو ورځو کښې یو ملیون کیوسك اوبه راغلي او داسي يو بند هم دومره زیاتي اوبه نشي برداشت کولی او کېدے شي کوم داسي لوي بند دا تباهي لا زياته کړې وې.

په پاکستان کښې سېلاب راتلو سره سره چين هم د سېلاب دومره لوئی تباهي سره مخ شوې چي په يوه موقع خو چين په ځېليو سيمو کښې د سلګونو په شمېر پوځي اهلکار په ځائ کړل او که د وېن قوان بند مات شوې و نو د 2 لکه د آبادۍ ښار ګولمډ به په څلور میټره اوبه کښې ډوب پروت و. ښېږ کال د برازيل په شمالي ختيزه سيمه کښې سخت سېلاب راغلو او دومره تباهي وشوه چي پکښې 50 تنه مړه او 150000 خلق بے کوره شول. دا تباهي د دوه دريابونو د بندونو د ماتېدو له امله رامېنځ ته شوې وه. په مارچ 2009 کښې جکارته سره نزدې د بند ماتېدو له امله ګڼ شمېر خلق مړه شوي وو.دغسي په حقيقت کښې د سندهـ درياب په لار کښې بندونه هم د سېلاب د تباهی بنيادي اسباب ګرځي. د زياتو بندونو او بېراجونو له امله په درياب کښې ملبه جمع کېږي او کچه ئي خطرناك حالت ته رسيږد انسانانو کمزوری ابادي د بے کوره کېدو يو بل سبب دې ـد سېلابي اوبو د لارې څخه په دومره لويه پیمانه کېدې کول دا حقيقت هم په ګوته کوي چي د انسانانو بے قاعده ابادي د دې صورتحال د لا خرابولو ذمه واري دي.

د تېرو لسيزو په مهال مصنوعي بندونو جوړولو او اړخونو بدلولو د سېلاب اصول ټول بدل کړي او هغه لويه برخه کومه چي په تېر وخت کښې د سېلابي

اوبو لار وه په وچه بدله شوې او له امله ئې په دې سيمو خلقو ابادې جوړې کړې دي . د تربېلا بند د جوړېدو څخه وړاندې د سندهـ په کچه سيمه به هر کال 300000 کيوسك د سېلاب اوبه راتلې او په ټول کال کښې 77 فيصده د سېلاب 500000 کيوسك ريکارډ کړې شوې دي.تربېلا بند او نورو بېراجونو د سېلاب لار په مکمل توګه بدله کړې او دغسې د سېلاب په وړاندې پرتې سيمې بجنر شوې او انسانانو په دې ابادې جوړې کړې. د يو راپور له مخې په 50000 ايکړه کچه زمکه ابادې جوړې کړې شوې دي چې پکښې د حکومت وداني او سړکونه هم شامل دي. څو لسيزې وړاندې د کلي والو سيمو د پلانګ خيال نه دې ساتلې شوې او د کلي والو سيمو خلقو د دريابونو په غاړه ابادې جوړې کړې دي. د کوم افت په مهال د داسې سيمو څخه د خلقو ويستل لا ګران شي او د دوي ټوله اثاثه د سېلاب تباهي سره مخ شي.دغسې د ځنګلو پرې کول ، سياسي عنصر او بيوروکرېسي هم د سېلاب د اثراتو زياتولو سبب ګرځي.د ځنګلو نشتوالي کوم د سېلاب په مهال د څپو (چپو) زور کموي هم د سېلاب زور زيات کړې.

که د سوسائتي د بېلا بېلو برخو او په خاص توګه د پرائيوېټ څانګي او سول سوسائتي د تنظيمونو په ګډون د بحالي او بيا رغوني مرحله تياره نه کړې شوه نو بيا په داسې حال کښې د سوشو ډيزاسټر زياتېدو خطر هم په سر ولاړه ده. په سباوُن کښې د داسې آفت څخه بچ کېدو لپاره لوي عزم سره د مربوط او د عمل وړ مېکانزم ضرورت دې او په داسې صورت کښې به سياسي عزم د بنياد تيګه ثابته شي.

Daily The News-September 5, 2010

د شرکتي پرمختګ استحکام اداره(اېس پي او)په پاکستان کښې حقونو لپاره کار کونکي د سول سوسائټي یو لوي تنظیم دېدا تنظیم د خپلو جمهوري حکمرانی، د معاشي انصاف، امن او د معاشي همغږي پروګرامونو د لارې په پاکستان کښې راتلونکو معاملو او په خاص توګه معاشي،اقتصادي،سیاسي صورتحال په نظر کښې ساتلو سره هڅې کوېد دې نه علاوه اېس پي او د قدرتي آفتونو او بېړني صورتحال په مهال لکه په آزاد جمو کشمیر کښې د زلزلې،په بلوچستان کښې سېلاب،په خېبر پښتونخوا کښې په کورنی توګه د بے کوره شویو خلقو (آئي ډي پیز) او د آزاد جمو کشمیر،خېبرپښتونخوا، بلوچستن،پنجاب او سنده کښې په سېلاب ځپلیو سیمو کښې د انساني همدردی په توګه د مرستې کارونه کوېبشري حقونه د اېس پي او په پروګرامونو کښې مرکزي حېثیت لري چې مقصد یې جمهوریت ته وده ورکول،په هېواد کښې د استعداد زیاتولو،د تحقیقي کارونو،خلق خبر ساتلو،د وکالت کولو،د پالېسی په اړه د مذاکراتو،د تربیي کورسونو،د اطلاعاتو رسولو،لیکچرو ورکولو،د خلقو فعاله کولو،ځایي تنظیمونو سره شرکت ته د پرمختګ ورکولو او د امن تحریکونو د حوصلې او ملاتړ کولو د لارې انصاف او امن ته وده ورکول دي.

داېس پي او مرکزي پروګرامونو ته اوس مهال نړیوال پرمختګ لپاره د آسټرېلیا ایجنسي(AusAid) ، د برتانیي هائي کمېسیون(BHC) او د نیدر لېنډ د سفارت(EKN) مرسته تر لاسه ده.

اېس پي او د خپلو پروګرامونو او پروژو د لارې د نورو مرستندویه ادارو د مرستې او ملاتړ هم منه کوي.

SPO
Strengthening
Participatory
Organization

اداره استحکام شرکتی ترقی


**د اېس پي او قومي مرکز**

30-اے ناظم الدین روډ، اېف ټن فور اسلام آباد پاکستان

UAN:+92-51-111357111 Tel:+92-51-2104677,2104679,2014680 Fax:+92-51-2112787 Info@spopk.org www.spopk.org

| بلوچستان | خېبرپښتونخوا | پنجاب | سنده | آزاد جمو کشمیر |
|---|---|---|---|---|
| اېس پي او-کوئټه | اېس پي او پېښور | اېس پي او ملتان | اېس پي او حېدر اباد | اېس پي او مظفر اباد |
| هاؤس 58-اے، د پاک جاپان کلتور | هاؤس 15 ، سټوېټ 1 ، سېکټر اېن-4 | هاؤس 339-340 ، بلاک -ډي شاه | پلاټ 2/158 ، اېم عثمان ډېلاني سکیم | هاؤس بي- 55 ، اپر چتهر مظفر اباد |
| مرکز ته نژدې، جناح ټاؤن،کوئټه | فېز 4 ، حیات آباد ، پېښور | روخ عالم کالوني ملتان | اکېډمي عالمدار چوک،ګرډ سټېشن | ټېلیفون:434432 -05822 |
| ټېلیفون:2863701 -081 | ټېلیفون:5810021 -091 | ټېلیفون:6772995 -061 | قاسم اباد،حېدر اباد | فېکس: 434415 -05822 |
| 081- 2863702 | 091- 5811792 | 061- 4551681 | ټېلیفون:654725 -0222 | اي مېل:muzaffarabad@spopk.org |
| فېکس: 2863703 -081 | فېکس: 5813089 -091 | فېکس: 6772996 -061 | فېکس: 6521126 -0222 | |
| اي مېل:quetta@spopk.org | اي مېل: peshawar@spopk.org | اي مېل: multan@spopk.org | اي مېل: hyderabad@spopk.org | |
| اېس پي او-تربت | اېس پي او ډي – آئي خان | اېس پي او لاهور | اېس پي او کراچي | |
| پسني روډ، تربت | هاؤس 2 ، سټرېټ 2 ، ونسم هاوسنګ | هاؤس 76- اے، شېر شاه بلاک نیو | جي-22 ، بي /2 ، پارک لین کلېفټن | |
| ټېلیفون:412333 -0852 | سکیم ، ونسم کالج سره نژدې | ګارډن ټاؤن سره نژدې، لاهور | بلاک 5 ، کراچي | |
| فېکس: 413884 -0852 | ډي آئي خان | ټېلیفون:35863211 -042 | ټېلیفون:5836213 -021 | |
| اي مېل: turbat@spopk.org | ټېلیفون:713231 -0966 | 042- 35863212 | 021- 5873405 | |
| | فېکس: 733917 -0966 | فېکس: 35863213 -042 | فېکس: 5873794 -021 | |
| | اي مېل: dikhan@spopk.org | اي مېل: lahore@spopk.org | اي مېل: karachi@spopk.org | |



د شرکتي پرمختګ اداره(اېس پي او)یوه غېر سرکاري غېر استفاده کونکي اداره ده کومه چې د جنوری په 15 نېټه 1994 کښې د اېس اي سي پي(سي اېل اے) د لائسنس ترمخه د کمپنیز آرډیننس 1984 د شق 42 له مخې رجسټر کړې شوې او د انکم ټېکس آرډیننس 2001 د شق 2 (36) له مخې منظوره کړې شوې.